مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۳/۰۸/۱۴

# وطنه ځار دي شم

ځکه برباد یې، چې غمـــخوار نه لرې
وطنه ځـــار دي شم هوښیار نه لرې

په خـوب پراته دي دغفلت، ستا بچیان
در نه لوګی شـــم ،چـې بیدار نه لرې

وچ چمـنونه او باغـــونه دي ســـــتا
خپل سمسورتیا ته دي مالـــیار نه لرې

تول په غمـــو کې د غلیم شو شریک
چې ســتـــا په غم کې وي بیمار نه لرې

ستا بربادۍ ته دي مـــلاتړ بـــیدردان
خپل آبـــادۍ ته، یو معـــمار نه لرې

سید عبیدالله نادر
پېښاورکال ۱۳۷۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ